خپـه خـوشحال ډګرخیل

۲۰۱۳/۰۹/۱۵

# تـوپـک، تـوپـک قـانـون مـاتـوونـکي پښتـنه.

اسلامي، ملي او علمي سرښندني د کمزوری کولو په نیت، دا سي پوښتنه خپره کړې ده چي جواب يې د دوی پټه کینه نشي سړولی: «ایا خون ملال یوسفزی پاکستانی از خون انیسه افغان رنګین تر است»؟ د دې پوښتنې ځواب هغه کارپوه ورکولی شي چي په لابراتوار کې يې د دواړو خویندو وینه تحلیل کړې وي. ملاله د ۱۹۹۷کال د جولای په۱۲په سوات کې زیږیدلې ده، او د قــاتلانو لــه خوا خطرناک وسله وال بـرید پرې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۹ همه وشو. د غــه شــان، په کابل کې راته یو دوست دوه ایمیلونه وښودل چې ښایي په غـرب کې د دوه بشپـړو مسلمانانو له خوا به زما دوست ته رارسیدلي وي. ګومان کوم چې دواړه به افغانان الاصله وي. دغو دواړو په خپلو ایمـیلونو کې د خپل نفس د تسکین لپاره په پښتـني وریرې ملالې یوسـفزۍ پسې له یو ډول مـرموزو چالاکیـو نه کار اخیستلی دی. په دې لیکنه کې دوی دواړو ته پښتون یا ا فغان ځکه نـشم ویلې چې خـدای مکړه د دوی د بشپړې اسلامي عـقیدې سره کـوم ټکر و نـکړي؟

یـو بـشپـړ مسلمان الحاج « استاد...» په پښتونخوا کې په نشنل عـوامي ګوند د «ملحد ګوند» فتوی ورکړې ده، یايې پرې ټاپه وهلې ده. الحاج استاده! ګوند په قانوني لحاظ یو مصنوعي (فیکټیشس) شخصیت دی چې د طبعي شخصیت (انسانانو) په لاس جوړیـږي او چلیـږي. یانې سیاسي سازمان خپل پخپله نه په یو چا ایمان راوړي او نه پخپله له ایمان نه اوړي، خو داچې طبعي شخص یا اشخاص پکې د الحاد د ټکي ډکون (محتوا) ورزیات کړي یايې ترې وباسي. د غـربي نـړۍ په دلال اسـلامي پاکستان کې د پښتنو نیشنل عـوامي ګونـد واک او نفوذ نه لري، بلکې واک او نفوذ په غټه اندازه د اصلي پاکستاني «اسلامي» ګوندونو لکه مسلم لیګ او کله نا کله د پیپلز(خلکو) په لاس کې دې چې د پنجاب په مقتدرو مسلمانانو اتکا کوي. ښايي منلی استاد به پــه نوم کې چاپي تیروتنه کړې وي؟ په یو مسلمان باندی د بل مسلمان بې عـزتي، ملکیت نـیول او وینه تویـول حرام دي، خو د انګریزانو د هـدفـونو لپاره را توږل شوي اسلامي پاکستان د مـیونـد د ملالۍ د هـیواد مهمه برخه ( پښتونخوا)غصب کړې ده او په پوره چل ول سره پښتانه ژوبلوي، محتاجوي او د اسلام د پردې لاندې ورته د تـرهه ګرۍ (ټروریزم) چاپیـریال جوړوي او لــه دې لارې د هند په مقابل کې زړه ور پښتون پوځیان د سپیڅلي پنجاب د ګټو لپاره د تیارسۍ په حالت کې ساتي او له لویدیزې نړۍ نه د تـروریزم د مخنیوي په نوم پیسې او وسلې لاسته راوړي. په برتانوي هند کې د دیـوبند مدرسې عالمان د پاکستان د جوړیدلو مخالف وو، خو محّمد علی جناح د برتانیې د پروژې په پلې کولو پسې ملا تړلې وه. عبدالغفارخان (باچاخان) محّمد علي جناح ته د ۱۹۳۰ میلادی په شا و خوا کې وویل چې یوځای به شو اوغبرګه مبارزه به وکړو. خـو جـناح ورسـره و نه منـله په دې دلیل چې بــاچاخان د انګـریزانو په ضد و او پخـپله دی (جناح) یــې پــلـوي و

د هغه دوهم بشپړ مسلمان ورور سره دا منم چې د امریکې د غټـو رسنیو په شان په امریکا کــې افغاني ټلویـزیوني پروګرامونه هم په غټه اندازه مطیع دي او خاصه اجندا لري. خو یو بل واقعیت له دغه ورور نه هیـر شوی دی: کله چې سپیـڅلی جهاد په نا سپیڅلي بري واوښت، د مسعـود- ربـاني د واکمنۍ په مهال(۱۹۹۲ اپریل تر سپتمبر ۱۹۹۶) دخاورې بشپـړتیا د خطر سره مخامخ شوه، په ښځو جنسي بریدونه وشول اوپه زرګونو افغانان مړه، ژوبل او بې کوره شول. وریپسې د افغان طالبانو په مهال( سپتمبر ۱۹۹۶- اکتوبر ۲۰۰۱) د خاورې بشپـړتیا خوندي شوه، خــوښځې خاصتا په کابل کې میشتې ښځې په کورونو ورننـویستل شـوې او کله به چې راووتلې طالبانو به پــه چوکـو(لښتو) وهلې. نو له دی کبله د کابل ښځې او په لویــدیز کې د هغــوی دوستان او خپــلــوان د اســلامي ګوندونو، تنظیمونو له جنسي بریدونو او د افغان طالبانو له کوتکـونـو نه نـفـرت لري چې د هغوی نفرت پر ځای هم دی. د طالبانو په مهال، حتی ښځینه حمامــونه هم تـړل شوي و. زما مطلب دادی چې د یوه مسلمان په څیـر باید د افغانستان د نفوسود ښځینه اکثریت دردونو او محرومیتونو ته هــم یو څه توجه کړو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

کومي افغاني میرمنې(...) چې په اریانا افغان انټر نیشل ټلویزیون کې په خپل پروګرام کې د ملالې یوسفزۍ په هکله نظر وړاندې کړې، زه پرې نه یم خبر ځکه زه د افغاني ټلویزیوني پروګرامونود لیدلو سره علاقه نه لرم . خو ښایي هغې به په خپل پروګرام کې د تنکۍ ملالې یوسفزۍ په حوصله ،مبارزه، کامیابۍ او زړه ورتیا کې د ښځو هیلې احساس کړې وي. یو سیاسي او حقوقي نظام چې د ښځو مشروع حقوق نشي خوندي کولی، هغوی مجوریږي چې سپین سترګې شي او په پاځون لاس پورې کړي، په تیره هغه ښځې چې دنیا یې لیدلې وي او تعلیم یې کړی وي. هیڅ عاقل مسلمانانې نور نشي زغملی چې د اسلام د نوم لاندې دې د هرناپوه، دیومزاجه او غضب ناکه نارینه ظلم او سپکاوی ومنې. که ښځې بې عقله، کم عقله یا ناقص العقله وای، ولې به حضرت محّمد(ص) د تاجرې بي بي خدیجې د لاس لاندې کار کولی، او څنګه به بي بي عایشه یوه غټه محدثه وای؟! ولې په اوسنۍ غیر اسلامي نړۍ کې ښځې غټې عالمانې دي، خو په اسلامي نړۍ کې موږ نارینه مسلمانان تقریبا د ۱۴۰۰ کلونو په اوږدو کې دې فیصلې ته ونه رسیدلو چې په ښځو حجاب ور واچوو یا چلباب؟ مطلب مې دادی چې اسلام د خپلې بقا لپاره په عبادتي اړخ (کلمه، لمونځ، روژه، ذکات، حج) کې نه، بلکې په ټولنیز- سیاسي اړخ کې تجدید ته غټ ضرورت لري! په دې مانا چې اسلام د استدلال، علم، او د علم د استعمال (تخنیک)، او د ټولنیزو- سیاسي قانون سازیو( واده، طلاق، ځوښځتوب، قرارداد، د ښځو تعلیم او کار، سیاسي نظام...) سره پُخلا شي. پخوا به د ۱۹۷۸ پورې په افغانستان کې د مکتبونو شاګردانو سربیره په دنیوي علومو(کمیا، فزیک، بیالوجي، ریاضیاتو، تاریخ، ادبیاتو)، د دینیاتو او منطق مضامین هم لرل. د کابل په شرعي دارالعلوم کې سربیره په دیني نصاب، ریاضیات هم تدریس کیدل. هغه مهال د دیني او دنیوي علومو تر منځ ورورۍ وه او هره خوا به د یو بل په خبرو پوهیدله او هرې خوا به یوبل ته د خپلې تعلیمي څانګې د کار پوه په څیر درناوی کاوه. غلیمي به نه وه، بلکې بحث او منطق به وه. ښځو به په ښوونځي کې تعلیم او په پوهنتون کې تحصیل کاوه. ما په ټول ژوند کې کوم ملا، طالب نه و لیدلی چې په ښځو پسې به یې کوتک راخیستی وی یا به یې د سړک په سر په کوم بل ډول په عذاب کړې او سپکې کړې وي. که له ټول افغانستان نه طالبستان، اسلامستان جوړشي، هره ورځ به د پیچل کیدونکي ژوند کارونه څوک کوي؟ ایا ټول ګاونډي هیوادونه به ځانونه سم دلاسه دافغانستان په طالبستان، اسلامستان کې حل کړي؟ ژوند د کار په تقسیم ولاړ دی. په تیرو ۳۳ کلونو کې زموږ د ځوانانو روزنه د نورو په لاس کې ده او له دې امله زموږ تعهد هم د نورو سره دی، زموږ د تعلیم هدف د بل چا په ګټو راڅرخي. موږ یې داسې تلقین کړي یو چې د هیواد او دخپل ولس د ګټو دفاع د اسلامي امه په ضد ده. تر څو چې په نړۍ کې ملي ژبې او ملي ګټې شته وي، تر هغه به ټول افغان ملت هم د ملي ژبې او ملي ګټو مستحق وي.
زه داسې نظر لرم: نږدې ۱۳۳ کلونه وړاندې په ۱۸۸۰زییز کې اتلې ملالۍ د میوند په جګړه کې پښتانه د یرغلګرو انګریزانو په ضد تودې جګړې ته په دې ټپې سره راوپارول

کـه په میوند کې شهید نه شوې　　　　خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

میوند په افغانستان کې دی، نه په کوم بل هیواد کې! دواړه ( د ملالۍ چوپان پلار اوپخپله ملالۍ) د پوهنې له رڼا نه محروم وو او له دې امله له بدې مرغې په اسلام دومره نه پوهید ل لکه د خپل هیواد افغانستان، د خپلې سیمې میوند اود پښتونوالې په هکله چې پوهیدل. څومره به ښه وای، که د پوهنې رڼا د میوند د مسلمانې اتلې ملالۍ او د هغې د مسلمان پلار په برخه شوې وای. څومره به ښه وایی که اسلام دوستي او وطن دوستي د یو بل ممد وای!
اروابښاد عبدالغفارخان ( ۱۸۸۰-۱۹۸۸) چې خپل ولس به ورته «باچاخان » وایه، « جمعیت اصلاح الافاغنه» اوښونځي، مدرسې یې جوړکړل. د تعلیم په چارو کې به د هغه مهال دوه دیوبندي عالمانو ( د پښتونخوا اروابښاد مولوي صاحب فضل ربي او اروابښاد تورنګزو حاجي صاحب) د باچاخان سره د ښوونځیو په جوړولو کې مرسته او مشوره کوله. خو انګریزانو د پښتنو له هوښیاریدلو نه ویره لرله او له دې امله یې خپلو مُلانواو مولویانو ته پیسې ورکولې چې د باچاخان د تعلیمي پروګرام په ضد په عوامو کې داسې منفي ډنډورې را پورته کړي

سبق د مد رسې وایي　　　　د پاره د پیسې وایي
په جنت کې به ځای نه وي　　　　په دوزخ کې به ګسې وهي

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

د دغو انګریز- نوکره ملانو وارثانو نن بیا پښتنو ته پاتک اچولی دی چې د برتانوي پاکستان له خوا په اشغال شوې پښتونخوا کې ګډ وډې راولي او د پښتنو زوزات د پوهنې له رڼا څخه محروم وساتي. برتانوي پاکستان یو دلال (کومپرادور) دولت دی چې په ۱۹۴۷ کې د انګریزانو په لاس راوتوږل شو او تر نن پورې د لویدیزې نړۍ د ګټو د خوندي کولو لپاره «جبهه یي» (فرنټلاین) ماهیت لري. له همدې امله د برتانوي پاکستان طالبان پښتونخوا شړوي، او پخپله پاکستان د خپلو دغه ډول عملیاتو په مقابل کې له لویدیزو دولتونو نه پیسې او وسلې اخلي او په عین وخت کې په قبأیلي سیمو کې د طالبستان وحشي تجربه پخوي. په انګلستان کې له اُکسفورډ پوهنتون نه راوتلې مورخې فون تانزیلمَن په خپل مهم کتاب((اِ یندین سَمَر، ۲۰۰۷) کې لیکي چې که: محمد علی جناح « د پاکستان پلار و، وینسټن چرچل یې د تره مقام لاره».

د برتانوي پاکستان طالبان د ماغزو غلیمان، د پوهنې یرغلګران، د تورتم پلویان، انسان ډوله ښاماران، او د اسلام په نوم د اسلام سپکوونکي دیومزاجه داړه ماران دي چې د رڼا په ځای ورته تورې سمڅې او د پښتنو د ژوند او کلتور بربادول خوند ورکوي. که افغانان نه وای، په غیر له پښتونخوا به نور ټول برتانوي پاکستان، بنګلادیش او پاتي نور هندوستان غیرمسلمان واي. افغانانو د اسلام دین هندوستان ته رسولی و او مسلمان شوي هندیان ( د اوسني برتانوي پاکستان د مسلمانانو په شمول) یې مسلمان ساتلي وو. افغانانو خو د شوروي اتحاد امپراتوري ړنګه کړه او اوس هم د امپراتورۍ امریکې سره لاس په ګریوان دي. خو د برتانوي پاکستان واکمنانو به د شورویانو په ضد د افغانانو د جهاد په مهال هم پیسې ګټلې او اوس یې هم د لویدیز په توبره کې خوله منډلې ده. پوښتنه داده چې ولې دومره دیني مدرسې په پښتونخوا کې جوړیږي خو په پنجاب او سیند کې نه جوړیږي؟ ولې پاکستاني طالبان په کراچی ،لاهور او راولپینډۍ کې په ښځینه زده کوونکو بریدونه نه کوي، خو له پښتونخوا نه یې سور تنور جوړکړئ دی. په پیښور کې په سینما بریدونه کوي، خو په لاهور کې چې د فلمونو مرکز دی، خیر خیریت دی، خلک کار لي او روزګار چلوي.

تعصب، کینه، عاجل قضاوت اوځان پخپله مجاهد، غازي، استاد او مشر (استاد، امام، خلیفه، امیر) ګڼل د ځان خوښۍ احساس منعکسوي چې په خپل وار سره د اسلامي اخلاقو سره تصادم لري. زما په خاورین(غیرمقدس) فکر، مشر (امام، خلیفه...امیر) هغه څوک دی چې د خپل ولس په زړه کې یې ځای نیولی وي، نه د یوې ډلې، یو ګوند یا یوې سیمې د وګړو په زړونوکې.

أې زماهغوخویندو وروڼو چې د مسلمان عقل په غټ پټکي، دیني شخصیت یې د ټوپک په ججوره، او د نفس تزکیه یې د ۱۵کلنې ملالې یوسفزۍ د وژنې په بر ید کې وینئ، په قرآن مجید کې یو ډیر غټ ټکي ته پام وکړئ: پیغامبر حضرت محّمد (ص) ته د لومړۍ وحې په پیل کې د «اقرأ» (ولوله/ولاړکړه د خپل رب په نوم) امر شوی دی. دغه لومړی والی په اسلام کې د علم (پوهې، زده کړې) لومړی والی او غټ اهمیت ښئ - نه د ټوپک، کوتک، تهدید او سپکاوي. هلته راغلي دي: «ولاړ کړه د خپل څښتن په نوم چې هر څه یې خلق کړي دي. انسان یې له یوې ټینګې مادې نه پیدا کړ. ولوله او ستا رب کریم دی چې انسان ته یې [لیکل او لوستل] په قلم ورزده کړل [او] انسان یې په هغه څه وپوهاوه چې نه پرې پوهیده». په وروستنئ کړۍ کې د علم مسلسل پرمختګ ته ګوته نیول شوې ده. هسک څښتن (ج) چې وروستني پیغامبر حضرت محّمد(ص) ته لومړۍ وحې د علم په باره کې استولې ده، پاکستانئ طالب څوک دی چې د هسک څښتن (ج) له خوا لومړئ رالیږل شوې وحې ماته کړي او زموږ په تنکئ وریرې ملالې یوسفزۍ باندې خپل وحشي زړه تش کړي. الله(ج) ملاله وساتله، د عزت او نیک شهرت خاونده یې کړه، او د وحشیانو جنایت یې ټولې نړۍ ته وښود. باید د افغانستان طالبانو چې د یرغلګرو سره لاس په ګریوان دي، دغه جنایت غندلی وای. دغه جنایت د نړۍ والو په سترګو کې د اسلام حیثیت راټیټ کړ او غربي یرغلګرانو او د هغوی متحدینو ته یې د دې زمینه برابره کړه چې په ملاله یوسفزۍ باندې د وحشت طلبو او جهالت طلبو پاکستانی طالبانو له برید نه سیاسي او تبلیغاتي ګټه اوچته کړي. د ټوپک - ټوپک قانون خلک چې په زړونو کې یې د تعصب لمبې بلې دي، ذکر شوې لومړئ وحې ته پاتک نشي اچولی.

که د ټول افغان ملت یوې ملالۍ نږدې ۱۳۳ کلونه وړاندې په ۱۸۸۰م کې د انګریز یرغلګرانو په مقابل کې د میوند په توده جګړه کې ټوپک راپورته کړ، دغې بلې تنکۍ ۱۵ کلنې ملالې یوسفزۍ د یوویشتمې پیړۍ په لومړیو ۱۲ کلونو کې خپله وینه په قلم کې توی کړه او نړۍ ته یې په ډاګه کړه چې پښتنې پیغلې نه یوازې په هیواد سر ورکوي بلکې د هیواد د پرمختګ او د ملت د هوساینې لپاره په علم او قلم هم سر ورکولو ته تیارې دي. زموږ وریره د سوات ملاله یوسفزۍ په تورتم- تورتم او ټوپک ټوپک قانون کې د خپل ټول افغان ملت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اتله ده. کـه د سـوات په ښکلي دره کې یو څو تېوپک مزاجه او دیو فطرته«انسانانو» اسلامي عاطفي ته پاټک اچولی و، نو تنکۍ ملالۍ یـوسفزۍ غړندو هیلو ته نوې انرژي ورکړه: په یـوویـشتمه پیړۍ کې د پوهـې او رڼـا انرژي! ملالۍ یوسفزۍ د لویدیز، روسیې، ایران او برتانوي دلال پاکستان هغـه ډنډورې شنډې کړې چې پـښتانه یې پکې وحـشي، جنګ طلـبه، علـم دښمنه او ښځې سپکـوونکـی قـوم معـرفـي کـړی وه.
د مـلالۍ یـوسفـزۍ «جـنایت» دا و چې ځان او نورې جینکۍ یې د تعلیم د حق وړ ګڼلې. خو د برتـانـوي پاکستـان طالبانو دغـه حق نـشو زغملی، او د تنکۍ ملالۍ د وژنې فتوی یې ورکړه. د هسک څښتن تکل بل شان و: پښتنه ملاله یوسفزۍ د وژنې په ځای کلکه ټپي شوه او په مقابل کې یې پاکستاني طالبان رسوا شول. خو ټول پښتون قوم اوس هم د لویدیز د بمونو په رڼا کې کور او ګور ورک کړي دی او په مقابل کې یې د«اسلامي؟» برتانوي پاکستان بازار تود دی. په یو مسلمان بانـدې د بل مسلمان سره بې عزتي کـول، شتـمني یې نـیول او ویـنه یـې تـویـول حـرام دي. برتـانوي پاکستان د خپل بـادارپـه امر د افغانستان خاوره نیولې ده، او د بـرتـانـوي پاکستان طالبانو زمونږ په تنکۍ وریرې ملاله یوسفزۍ باندې وسله وال برید کړی و او هغـه یـې کلکه ژوبل کـړې وه. د پاکستاني طالبانـواعمال د رټـلو وړ دي. هغه زیان چې د ملالۍ یوسفزۍ د وژنې د برید له لارې د اسلام معـنوي مقـام ته رسیـدلی دی، مسـؤولیت یې د پاکستانی طالبانو په غاړه دی، نه د مـلالۍ یـوسفـزۍ پـه غـاړه. ملالۍ یوسفزۍ خپل حق غوښته، هغه حق چې په لومړۍ وحې کې یې  امـر شوی دی:« اقرأ....»، یانې ولاړ کړه/ ولوله:د العلق سوره، ۹۶:۱ - ۵
ملاله یوسفزۍ د نوي، علمي سنګر اتله ده

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ